# زېری

د افغانستان د علومو اکاډمي
Academy of Sciences of Afghanistan

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي


د واکمـــنو ژوندګي هـــم د عبـــرت ده
مست موجونـه دي چـې یـو پـر بـل سپرېږي
دا دستـــور دی زوروور امـــواج د بحـــر
لحظـه پـس تـر کمزوریـو لانـدې کـېږي

محمد صدیق پسرلی


چهارشنبه ▣ ۱۵ – ۱۸ مه ګڼه ▣ درېیمه دوره ▣ پرله پسې ۲۱۵ - ۲۱۸ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۳ لمریز کال د لیندۍ ۲۶ مه ▣ ۱۴۳۶ هـ ق کال د صفر المظفر ۲۳ مه ▣ ۲۰۱۴ زېږدیز کال د ډیسمبر ۱۷ مه


ادبي بحثونه:

## متنپوهنه؛ د ادبپوهنې ځانګړې څانګه

(۲)


▣ څېړنپوه سید محی الدین هاشمي


### د متنپوهنې سترې موخې:

هره پوهنه خپلې ځانګړې کوچنۍ او سترې موخې لري، چې د هغو له پاره رامنځ ته او د یوې پوهنې په توګه مطرح او تثبیتېږي. متنپوهنه هم له دغه ډول موخو څخه برخمنه ده.

سرمحقق زلمي هېوادمل په خپلو درسي نوټونو کې د متنپوهنې د سترو موخو په اړه ډېر تفصیلي معلومات وړاندې کړي، چې ځینې برخې یې په لنډیز سره رااخلو: د متنپوهنې سترې موخې له متنپوهانو او متن څېړونکو، د متن کره کتونکو او د زړو متنونو تدوین کوونکو او ترتیبوونکو سره د مرستې پر محور چورلي. د متنپوهنې د بنسټونو او اساساتو په خپلولو سره سم متن څېړونکي، د زړو متنونو ترتیبوونکي او د متن کره کتونکي یو چوکاټ ته لوېږي او د دې پوهې له غوښتنو سره، هڅه کوي چې خپل کار د متنپوهنې له روشونو او لارو چارو سره برابر کړي. تر ممکنه حده یې له خطاوو وژغوري. د متن د ترتیب او تدوین په ټولو چارو کې، لکه: سریزې، مؤخرې، تعلیقاتو، شروحو، حاشیو او لغتنامې په شمول د نورو اړوندو موضوعاتو د لیک، ترتیب او تنظیم باب ورته په منظم ډول لارښوونه او له ګډوډیو او خپلسریو مخنیوی کوي.

لنډه دا چې متنپوهنه د متنونو د برابرولو او څېړنو په چارو کې د علمي موازینو د مراعاتولو او له نړیوالو معیارونو له مخې د متن د برابرولو موخې او هدفونه تعقیبوي.

دلته مو باید دې خبرې ته پام وي، چې متنپوهنه او متن څېړنه دواړه یو شی نه دی، یو له بله بېله اړیکې لري، خو سره جلا او توپیرونه هم لري.

متنپوهنه پر متني څېړنې تکیه لري او د هغې په خدمت کې یوه پوهه ده. په دې معنا چې متنپوهنه متن څېړنې ته خدمت کوي. د کار علمي بنسټونه او لارې چارې یې ورښیي، د متن د سمون لارې چارې یې مخې ته ږدي او متن څېړونکي د کار د علمي تیوري په رڼا کې د متن د برابرولو چارې سر ته رسوي.

که چېرې د یوې ژبې په فرهنګي کړیو کې د متونو د څېړنې او د زړو متنونو د بیا احیاء کار نه وي موجود، هلته متنپوهنې ته هېڅ اړتیا نه پیدا کېږي. که د متنپوهنې پوهه له چا سره نه وي، هم کېدای شي یو متن وڅېړي. د احیاء له پاره یې کار وکړي، چاپ او خپراوي ته یې چمتو کړي، خو دومره به وي چې کار به یې علمي نه، بلکې یوه دودیزه او عنعنوي بڼه ولري. نو له همدې امله ویلای شو چې متن څېړنه اساس دی او د متنپوهنې یې په خدمت کې ده، عملي کار متن څېړونکی، متني کره کتونکی (نقاد) او د متن ترتیبوونکی کوي، خو نظریات، اساسات (اصول) او تجربې متنپوهنه ورو وړاندې کوي.

### د متنپوهنې ارزښت او اهمیت:

ادبپوهان په دې اند او باور دي، چې په ټولو علومو او فنونو کې د څېړنو بنسټ پر متونو ولاړ دی، دا چې د اطلاعاتو او معلوماتو سترې سرچینې په خپله همدا متون دي، نو له دې امله متنپوهنه خپل ځانګړی ارزښت او اهمیت لري.

د ټولنیزو علومو په ډله کې په ادبپوهنه کې هم ټوله تکیه پر متن ده. که ادبي متنونه نه وي، ادبي تاریخ، ادبي کره کتنه او ادبي تیوري به پر څه شي بحث کوي. همدا راز وینو چې د ادبپوهنې فرعي څانګې هم له متونو سره سروکار لري او خپل ټول مواد له همدې متونو څخه اخلي.

له ځانګړو څېړنیزو مواردو سربېره د عامو لوستونکو د معلوماتو او د دوی د هنري او ادبي ذوق د تسکین سرچینه هم همدا متن دی او هر لوستی او د مطالعې مینه وال یې لوست ته اړتیا احساسوي.

د استاد شپون په وینا: "د متن لوستلو اساسي او اصلي ضرورت د انسان د ښکلا خوښونې له احساس څخه راولاړېږي. موږ په عادي ژوند کې یوه کیسه یا شعر د دې له پاره نه لولو، چې موږ ته عبرت یا پند راکړي...، بلکې هغه ضرورت چې موږ د شعر یا کیسې لوستلو ته هڅوي، یوه خاصه وجه لري، چې موږ ور ته د ښکلا خوښونې د احساس خړوبول وایو." د متن د لوستلو د اړتیا یو اړخ که دا وي، نو بل اړخ یې هغه پراخ اطلاعات او معلومات راچاپېروي، چې هغه د متونو په زړه کې خوندي دي، د ټولنې د عامو او خاصو لوستونکو پام ځان ته وراړوي. نو ځکه پوهان په فرهنګ کې د متن ارزښت او اهمیت ډېر لوړ بولي او د څېړنو د بنسټ په توګه ارزیابي کېږي.

### د متن څېړنې اصول او لارې:

د مخه تر دې چې متن څېړنې اصول او لارې تشریح کړو، د متن څېړنې په اړتیا یا په ارزښت، اهمیت لنډ بحث کوو او د بحث پیلامه دې پوښتنې ته د ځواب موندلو له لارې کوو چې: متن ولې څېړو؟

سرمحقق زلمی هېوادمل په دې اړه لیکي:

"د هرې ژبې او هر فرهنګ ادبي، فکري، علمي او معلوماتي ذخیره په متونو کې نغښتې ده. د دغو فرهنګي ذخایرو معرفي او پر محتوا یې د پوهېدو له پاره د متونو د تحقیق او نشر اړتیا محسوسه وه او ده، دا په دې نیامت چې علمي کړۍ او عام غوښتونکي د متنونو له متنه خبر شي او په دې وپوهېږو چې د دې یا هغې ژبې په فرهنګي ذخیره کې فکر، علم، هنر او عام معلومات په کومه کچه دي؟ څنګه یې تحول کړی یا دا چې د تحول څرک په کې نه لګي.

د پخوانیو د ضعف پر ټکو او د هغوی د کمزوریو پر عللو، د قوت او ځواکمنتیا پر رموزو یې موږ د همدې متنونو له لارې پوهېدلای شو. د کومو علومو او فنونو دغه یا هغه فرهنګ ته منسوبو ولسونو په لیکلو آثارو کې زیات ه وده


دویم مخ ⇦

# حمزه بابا - د غزل بابا

## له "ادبي سفر" نه په "ابدي سفر"

## (۱۹۰۷ - ۱۹۹۴ز)

استاد حبیب الله رفیع



**ژوند په بها بیا راستنېدی نه شي**
**زړونه ورکېدی شي، خرڅېدی نه شي**

له نن نه څه کم نوي کاله وړاندې:
د خیبر د سرلوړو غرونو غېږ نوره هم دنګه شوه،
د لواړګي سپېره او زیېږه رغونه پاسته او
وربښمین شول،
د شینوارو نېغه شمله نوره هم نېغه شوه،
د قبایلو سخته لهجه نرمه او ترنم انګېزه شوه،
د غرونو تندریزه فضا سندریزه شوه
او د سیمې د ادب سپین کتاب په زرینو کرښو
ډکېدل پیل شول!
دا ځکه:

چې په دې سپېرو غرونو
او په دې وچو رغونو کې
"حمزه بابا":
د پښتو د ادب سالار او د پښتو د غزل پلار
سترګې پرانستې!
او د خیبر د باب ترڅنګ د پښتو ادب یو نوی
باب پرانیستل شو!

***

حمزه بابا:
له همدې وچو غرونو
او له همدې شګلنو ډاګونو څخه
د خپل روښانه ژوند سفر پیل کړ
د خپلې زده کړې سفر یې پیل کړ!
او د خپل ادب سفر یې پیل کړ!
د وخت او سن له غوښتنې سره سم،
د سیمې له ګڼو ماشومانو سره ښوونځي ته ور
دننه شو!
په زده کړه کې یې سفر تر نورو همځولو ګړندی
شو،
د سواد له زده کړې سره یې د فن زده کړه هم په
مغز کې کېناسته
په ښوونځي کې یې لا درې کلونه نه وو پوره
شوي
چې د هنر او فن دنیا ورجذب کړ!
یوه ورځ ښوونکی لا ټولګي ته نه و راغلی
دی پاڅېد او پر تخته یې په تباشیر یو تصویر
جوړ کړ
ښوونکی چې ټولګي ته راغی،
د تصویر جوړوونکي پوښتنه یې وکړه!
دی په مینه او په دې هیله چې هنر به یې
وستایل شي، ورولاړ شو
خو تور فکره او سخت زړي استاد د لرګي درانه
او مرګوني
ګوزارونه ورکړل!
ماشوم حمزه،
او د هنر له خمیرې نه جوړ شوی حمزه
تاو راتاو او ګوزار شو
او له دې سره یې له ښوونځي نه زړه تور شو
خو له زده کړې نه موړ نه شو
ده خپله زده کړه او مطالعه جاري وساتل،

درېیم مخ

# ارزښت (arzəṣt)

✎ څېړنوال عبدالقیوم مشوانی

دوهمه برخه

هغه قواعد او اصول ارزښت بلل کېږي، چې له هغو سرغړونه یا جبران لري او یا ناممکن وي. په معاصرو ادبیاتو کې ورته سرې کرښې وایي او په دري ادبیاتو کې یې خطوط قرمزي بولي. هرې ټولنې له لومړني حالت څخه رنګ اخیست او مراودات په کې پیلېده. دغه ټولنې که څه هم ډېرې لومړنۍ وې، خو په هماغه وخت کې دیو لړ اصولو او قواعدو تابع وې، چې د یوې ټولنیزې اجماع په بڼه خلکو د ځان او خپلمنځي اړیکو له پاره نافذ کړي وو.

دوخت په تېرېدو سره دغه ارزښتونه چې محلي، عرفي او دودیز وي، د پراخېدو په لور حرکت کوي او د ټولنې یوه کتله رانیسي. دا ارزښتونه دوخت په تېرېدو بیا وروسته په یوه اخلاقي اصل بدلېږي. اخلاقي اصل په دې معنا چې الزامیت به یې وي؛ خو له هغو سرغړونه یواځې د انسان شخصیت ته په ټولنه کې صدمه رسولای شي، یعنې داسې کوم کار نه شي کېدلای چې یو څوک مکلف وي، چې د دې سرغړونې په مقابل کې سرغړوونکی وګواښي. دغه دودیز ارزښتونه وروسته په اخلاقي ارزښتونو بدلېږي. کله چې د ګروهې مسئله رامنځ ته کېږي، انسان د ماوراءالطبیعي فکټورونو تر اغېز لاندې راځي، چې د مذهبي حرکت یا یوه جامع دین په توګه یې مني. نو دغه عرفي قواعد یا ارزښتونه چې اخلاقي بڼه یې خپله کړې ده، دلته په دیني ارزښت بدلېږي. یعنې سربېره پر دې چې د اجباریت مسئله په کې ده، د استمرار مسئله هم په کې ده چې په اخلاقي فرهنګ اوښتې ده. د دې تر څنګ دا ځل الزامیت یو تقدس پیدا کوي، چې له تقدس سره دا ارزښت په دیني ارزښت بدلېږي.

په دودیز حالت کې د ټولنې د افرادو تر منځ یو ډول د خواخوږۍ حس پیدا کېږي؛ خو اخلاقي ارزښت یې توپیر کوي، د ساري په ډول، نن سبا په سرک توکانې اچول، په یوه اخلاقي اصل بدل شوي، سره له دې چې مجازات به ونه لري؛ خو د یوه اصل او ارزښت په توګه په خلکو کې منل شوي دي. وروسته تر هغه چې دغه دیني صبغه

درېیم مخ

# نوی ژوند او نوی ادب

اسدالله غضنفر

د هرې ژبې ویونکي د ادبي ذوق یو معیار لري. د ادب د خاوندانو هڅه دا وي چې د خلکو د عمومي ذوق معیار اوچت کړي. هر څومره چې دغه هڅه کامیابه وي، هغومره یو ملت ژوندي ادبیات لري او چې د ملت ادبیات ژوندي وي، ژبه یې نه مري، خو د ادبیاتو تاریخ راته وایي، چې کله کله د سانسکریت په څېر د ډېرو ښو ادبیاتو لرونکې ژبه هم مړه شوې ده. دا ولې؟

سانسکریت د هغو اریایانو ژبه وه چې درې، څلور زره کاله پخوا د هند په شمال کې دېره شول. دوی په خپله ژبه ډېر ښه شعرونه وویل او د ویدي سرودونو غوندې تلپاتې اثار یې وپنځول.

کابو دوه نیم زره کاله پخوا د سانسکریت عالمان په دې فکر کې شول، چې خپله ژبه په پخوانۍ بڼه، په هاغه بڼه چې لرغونې لیکنې وربانديې شوې وې، خوندي وساتي. دوی چې د پخوانو کتابونو عالمان وو، د پخوانو خلکو سانسکریت یې د خپل عصر تر سانسکریت غوره وبلله او دې ژبې ته یې د ډېرو زړو کتابونو په اساس ګرامر ولیکه او په دې ډول یې د خپل وخت د خلکو د ژبې او د کتابونو د ژبې تر منځ لوی دېوال ودراوه.

د ژبې او ادبیاتو ماهران دغه بېلتون د سانسکریت د مړینې یو لوی علت ګڼي، ځکه نور نو خلکو د کتابونو په ژبه کې د خپلو فکرونو، احساساتو او عواطفو د بیان لپاره مناسب ځای نه لیده.

اوس که موږ هم د معارف د نصاب په کتابونو او د ادبیاتو په پوهنځیو کې په پخوانو اثارو تر حد زیات تاکید وکړو، ایا ادبیات به مو له اوسنو خلکو پردي کړي نه وي؟

زموږ اکثرو زده کوونکو ته ادبیات د ځینو کسانو د سوانحو او د څو متروکو لغتونو زده کړه ښکاري، حال دا چې د ادبیاتو تعلیمي کتابونه باید د زده کوونکو ذوقونه وروزي او د ژبې هغه څه ورزده کړي، چې په اوسني ژوند کې په کارېدلی شي.

دې مقصد ته د رسېدو له پاره ښه لاره دا ده، چې د ادبیاتو په درسي کتابونو کې معاصر ادب ته توجه ډېره شي.

په افغانستان کې د ادبیاتو پوهنځی اویا کاله پخوا تاسیس شو. هاغه وخت په وطن کې د بیان ازادي نه وه او چېرته چې د بیان ازادي نه وي، هلته په رسمي تعلیمي ادارو کې د معاصر ادب تدریس ته خنډ پېښېږي. له بلې خوا پنځوس شپېته کاله پخوا زموږ د معاصر ادب ځولۍ تشه وه. د اکثرو معاصرو ژانرونو ښه مثالونه زموږ په ژبه کې نه وو، خو اوس حالات بدل شوي دي. اوس د ادب استادانو ته په کار ده، چې پر نویو تدریسي موادو فکر وکړي.

چهارشنبه ▣ ۱۵ – ۱۸ مه ګڼه ▣ درېیمه دوره ▣ پرله پسې ۲۱۵ - ۲۱۸ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۳ لمریز کال د لیندۍ ۲۶ مه ▣ ۱۴۳۶ هـ ق کال د صفر المظفر ۲۳ مه ▣ ۲۰۱۴ زېږدیز کال د ډیسمبر ۱۷ مه ▣ ۲ مخ

د خورا پېرزو کوونکي، لورووونکي الله په نامه

## سرلیکنه

## د زېري جریدې خپرنیزه کړنلاره

زېري جریدې ۷۷ کاله وړاندې (۱۳۱٦لمریز) د پښتو ټولنې په اډانه کې په خپرونو پیل کړی، چې په پیل کې یې ادبي او تعلیمي بڼه لرله، بیا یې ادبي خوا پر تعلیمي خوا درنه شوه او د پښتو زده کړې درسي مرستیال شو، وروسته یې د پښتو ژبې د پرمختګ له پاره بنسټیز بحثونه پیل او وځېړل؛ د ادب تیوري، ادبي څېړنو او د لرغوني او نوي ادب غوره او نادرې بېلګې یې خپرې کړې.

مطلب دا چې، دا خپرونه د تأسیس له وخته، تراوسه پورې له لوړو ژورو سره مخ شوې ده، کله له خپرېدو پاتې شوې او کله یې په تګلاره کې بدلونونه راغلي دي، خو کله چې په هېواد کې نوی تحول رامنځ ته شو او هېوادوالو د ارامۍ ساه واخیسته، په ټولو برخو کې د بیارغونې چارې پیل شوې، چې په همدې لړۍ کې فرهنګي هڅې هم ورسره زیاتې او چټکې شوې. په همدې بهیر کې په ۱۳۸۲لمریز کال د زېري جریدې له پاره هم د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادب انستیټیوټ مسلکي غونډه کې یوه نوې کړنلاره د ټولو غړو په اتفاق سره غوره شوې، چې دا لاندې برخې په کې شاملې وي:

- ✓ د پښتو د خطي نسخو او زړو چاپي نسخو معرفي.
- ✓ د نویو چاپي آثارو نقد، کره کتنه او معرفي.
- ✓ د افغاني فولکلور او پښتو ولسي سندرو د مختلفو اړخونو معرفي.
- ✓ د افغانستان د فرهنګي تاریخ د تیارو ګوټونو د روښانولو په باب د نویو او مهمو معلوماتو خپرول.
- ✓ د ادبي تیوري په باب د څېړنو خپرول.
- ✓ د ادبي نقد او کره کتنې د عامو قوانینو خپرول.
- ✓ د هنر د مختلفو اړخونو په باب د څېړنو خپرول.

## لنډه کیسه: سپېلنۍ

◆ نامزد څېړنیاره سمیله احمدزۍ

ښار کې د ګڼې ګوڼې عجیبه ننداره وه، د خلکو د غږونو داسې انګازې وې، چې د تالندې آوازیې هم ورک کړی و، یوې خوا ته د موټرو د ټګ راټګ او هارنډونو شور ماشور و، بلې خوا ته د سړک تر غاړې د ایښودل شوو ډول ډول توکو او د شیانو خرڅوونکو نارو او ګونګوسو ښار ته یو بېل رنګ او انځور ورکړی و.

تسل، چې د مکتب بکس یې تر شا، شلېدلي کالي او شنې په خاورو لړلې څپلکې یې په پښو وې او څېرې یې، چې د زماني د ناکردیو کیسه کوله، د سپېلني په دود داسې پوښل شوی و، چې تا به ویل، چې د سکرو له تل نه راوتی دی. د سپېلني ډبلی یې په لاس تاواوه، شنې لوخړې یې تاوېدلې او سپېلني به یې شا په شا ډبلی کې اچول او تر خلکو څرخېده. پر نازکو شونډو یې د موسکا مرغلرې داسې بربښېدلې، تا به ویل چې په تندر آسمان کې د تالندو رڼا ښکاري.

د موټرو تر شاوخوا تاوېده، خو موټریو په بل پسې تېرېدل، د چا به چې زړه پرې وسوځېد، نو لږ څه پیسې به یې ورکړې او ځینو خو به ورته بدې ردې ویلې: « ځه لرې شه، دود دې لېونې کړو، څومره سپین سترګی هلک یې......»، خو تسل به داسې ترې تاوېده، تا به ویل، چې پر غوږو کې یې مالوچ ایښي دي او هیڅ څه نه اوري، تر ډېره به یې موټر څاره، خو کله به یې چې د هیلو تارونه وشلېدل، نو تم به شو او په بل پسې به روان شو او د موټرو تېرېدل به یو په بل پسې د سینما د پردو په څېر د ده له سترګو تېرېدل، خو دی به پسې روان و.

ډېرې منډې یې وکړې او خدای شته چې ښه ستړی شوی دی، نو د یوې هټۍ مخکې یې ښه ډډه ولګوله او یو سوړ اسوېلی یې ووېست، خو ژر یې د مور څېره مخې ته ودرېده، سهار چې له کوره راووت، ورته یې ویلي و: «بچیه! خور دې دا څو شپې په تبه کې سوځي او نن شپه خو یې سترګه هم نه ده پټه کړې، تمامه شپه یې زګېروی کاوه، که دې غریبي وکړه، یو د تبې شربت ورته راوړه!» او بیا یې د پلار هغه غم لړلې څېره مخکې ورته ودرېده، چې ده ته یې د امېد سترګې نیولې وې، پلار یې چې په ښار کې یوه کراچۍ درلوده، دوه کاله مخکې یې په یوې چاودنه کې غبرګې پښې له لاسه ورکړې وې.

د تسل له غم لړلو سترګو نه د پلار خبرې او د خور تبه لکه انځورونه یو په بل پسې تېرېدل، یو ځل بیا له ځایه پاڅېد، پښو باندې یې زور واچاوه، خو پښو یې بیا هم د تلو اراده نه درلوده او له ستومانۍ نه یې کړیکې کولې، خو تسل وار - وار په پښو زور اچاوه، تر څو یې چې تلو ته تیارې کړې او د خلکو ګڼې ګوڼې ته یې ځان ورساوه، د سپېلني ډبلی یې تر هر چا تاواوه. په دې کې باران هم څاڅکي، څاڅکي په ورېدو پیل وکړ.

تسل هم د سپېلني د ژغورلو له پاره د یوې هټۍ تر څېرې لاندې ودرېد، نظر یې شاوخوا لټول، چې ناڅاپه د چاودنې تریخ آواز اوچت شو، خاورو او لوګو ځمکه داسې وپوښوله، تا به ویل چې ښه د تورو وریځو کاروان په دې محل کې واړول او ډېر یې د خپلو ارمانو سره په وینو ولمبول، د تسل د سپېلني ډبلی هم هاخوا دو یاله تر څنګه یې سرو وینو کې پروت و.

## متنپوهنه...

موندلې او کوم نه ده موندلې؟ دغو او د دې ساحې په لسګونو نورو پوښتنو ته همدا متون ځواب وایي. همدا راز له متونو د ژبې د تحول او د آثارو د سبکي ځانګړنو په باب ګټور معلومات تر لاسه کېږي.

ځینې متنپوهان په دې عقیده دي، چې د یوې ټولنې پرمختګ او ترقي هغه وخت ممکنېږي چې له خپلې تاریخي او متني ورثې او سابقې خبرتیا ولري او دا خبرتیا هم زاړه متون او د پخوانیو ادبي او علمي کارنامې په لاس راکوي....

که څه هم د متونو د څېړنې کار په اکاډمیک ډول په غرب او شرق کې تر شاوخوا دوو سوو کلونو نه د مخه نه ځي، نو متنپوهان وایي چې د بشریت په تاریخ کې له علماوو سره د زړو متنونو د خطي نسخو تحقیق او تصحیح شوق ډېر پخوانی دی او حتی تر میلاد د مخه زمانو ته رسېږي، خو دا باید او خپل ویلی شعر یې د لرغوني شاعر د دېوان په حاشیو کې لیکلی او وروستیو ناقلانو یې له کوم تامله په متن کې داخل کړی دی. د متونو د څېړنې له لارې او د متنپوهنې د معیارونو او میتودونو په مرسته، موږ اصلي له جعلي بېلولای شو. دا د حاشیو مطالب د متن څېړنې د اصولو په مرسته ترې لېرې کولای او خپله ادبي او علمي پانګه له جعلیاتو پاکولای شو.

دوکتور شازیه عنبرین په خپل اثر "تدوین متن" کې پر ځای ویلي دي چې: د لساني او ادبي تحقیق له پاره د متونو تدوین خاص اهمیت لري، له دې پرته، نه د ادب مستند تاریخ ترتیبېدلی شي او نه هم د ژبې..."

تر کومه چې خبره د متن څېړنې په اصولو او لارو پورې اړه لري، د یادونې وړ ده چې د ادبپوهنې نورو څانګو په څېر متن څېړنه هم ځینې اصول لري. که متن څېړونکي خپل تر کار لاندې نسخو مطالعه اړین کار دی. دا مطالعه د دې له پاره کېږي، چې متن څېړونکی په دې نسخو کې یوه د اصل په توګه ټاکي (د اصل په توګه د نسخې ټاکل خپل شرایط او معیارونه لري) او نورې ورسره پرتله کړي.

### څلورم – د اصل د انتخاب شرایط:

د اصل د انتخاب او غوراوي له پاره دا لاندې شرایط په پام کې نیول په کار دي:

لومړی، هغه نسخه ده و ټاکل شي چې د لیکوال یا شاعر په خپل لیک وي، که داسې نه وي، نو په دویم پړاو کې دې داسې نسخه انتخاب شي، چې د لیکوال او یا شاعر په سپارښتنه چا لیکلې او لیکوال یا شاعر کتلې وي او که داسې هم نه وي، نو په درېیم پړاو کې د داسې نسخې انتخاب په کار دی، چې د متن د خاوند په زمانه او یا را وروسته زمانو کې کوم شاعر یا لیکوال د ځان له پاره لیکلې وي. که داسې کومه نسخه نه وه، نو بیا د داسې نسخې انتخاب په کار دی، چې

- ✓ د پښتو د ادبي تاریخ په باب د نویو معلوماتو خپرول او د پښتو د نومرکو او یا لږ پېژندل شویو شاعرانو معرفي.
- ✓ د نړیوالو ادبیاتو د مشهورو لیکوالو او شاعرانو په باب څېړنې او د دوی د آثارو او د کلام د نمونو خپرول.
- ✓ د پښتو د معاصرو او کلاسیکو ادبیاتو د نمونو خپرول.
- ✓ د ژبپوهنې په باب خپرونې.
- ✓ د ښځمنو ادبیاتو څېړنې.
- ✓ داونۍ د مهمو ادبي پېښو لنډیز.
- ✓ ځوانو لیکوالو ته د مېتودیکو او روزنیزو موادو خپرول، د دوی د لیکنو او شعرونو خپرول او نور....
- ✓ د ښوونې او روزنې په پروسه کې مهمې میتودیکي لارښوونې خپرول.
- ✓ ښکلي نکلونه، لنډې کیسې، ادبي ټوټې، طنزونه او د نورو تخلیقي ادبیاتو د غوره بېلګو خپرول او نور...

داچې اوسمهال، زېری په ۱۵ ورځو کې یو ځل خپرېږي، د ۱۳۹۳ لمریز کال د لړم د میاشتې په ۲۶مه نېټه، د دې جریدې د کتنپلاوي په غونډه کې ټېنګار وشو، چې دا خپرونه دې هماغه پخوانۍ تګلاره چې ۱۶ مادې لري، خپلو خپرونو ته دوام ورکړي.

نو د زېري جریدې اداره هوډ لري، چې پورتنۍ تګلاره په پام کې ونیسي او داسې اکاډمیک، مبتکر او ادبي - ذوقي موضوعات په کې طرح او لوستونکو ته وړاندې کړي، چې له یوې خوا د پښتو ژبې او ادب د پرمختیا او پیاوړتیا لامل وګرځي او له بلې خوا د خپلو ګرانو لوستونکو او علاقه مندانو ادبي تنده خړوبه کړي؛ خو د دې جریدې اداره د دې خپرونې د لا ځلولو په موخه له ټولو پوهانو، څېړونکو، لیکوالو او شاعرانو هیله کوي، چې پورتنۍ تګلارې ته په کتو، خپلې لیکنې، مقالې، شعرونه او له بهرنیو ژبو څخه د ادبیاتو اړوند مسایل پښتو ته راوژباړي او موږ ته یې راولېږي.

زېری د ټولو درنو پوهانو قلمي همکاریو او د لوستونکو نېکو مشورو ته سترګې په لار ده.

په همدې هیله

ورسره زیاته کړو چې د تصحیح هغه پخواني روشونه له وروستیو هغو سره بالکل فرق لري او کولای شي د متن تصحیح، مقابلې او تحقیق لومړني اشکال یې وبولو. د زمانې په تېرېدو سره هغه د متن د تصحیح، مقابلې او تحقیق لومړنۍ تجربې له یوه نسل نه بل ته انتقال شوې پرمختیاوې په کې راغلې، تر هغې چې د نن ورځې دا دودیزه پرمختللې بڼه یې خپله کړې ده."

اوس چې مو دې پوښتنې ته ځواب وموند چې: متون ولې څېړل کېږي؟ بې اړیکې به نه وي، که د متن څېړنې ځینو ګټو ته هم اشاره وکړو:

سرمحقق هېوادمل په خپله یوه لیکنه کې د متن څېړنې دا لاندې څلور عامې ګټې ښودلې دي:

۱ -د متنونو د څېړنې له لارې موږ یو متن ـ چې د متعددو خطاطانو، کاتبانو او په وروستیو کې د چاپګرو لاسوهنو، شعوري او ناشعوري ناسمیو، په بېلابېلو وختونو کې د خطي متونو د ساتونکو تصرفاتو او تحریفاتو لار ورپیدا کړې، له خطا ځان وژغورو او یو سم د ایجاد د زمانې متن ترې جوړوو، چې له غلطیو پاک وي او له مطالبو یې بې له دغدغې په بېلابېلو علمي څېړنو کې کار واخیستلای شو.

۲ -د متن پوهنې د پوهې او د متن څېړنې د علمي او عملي کارونو له لارې موږ د خپلې ژبې فرهنګي ورثه، لکه څنګه چې لیکونکي او ویونکي لیکلې او ویلې، خپلو علمي کړیو ته وړاندې کړو او لوستونکي د اثر د لیکوال یا شاعر اصلي فکري منشاء ته رسوو او له دې لارې کېدای شي، چې په ژبه کې د فکري او هنري تحول مسایل موږ د خپلو آثارو له لارې په خپل فرهنګ کې مطالعه کړو.

۳ -د متنونو لیکوال او شاعران د یوې ژبې د بېلابېلو لهجو خلک وي، چې زیاتره په خپلو آثارو کې د خپلې لهجې د تاثیراتو تابع هم وي. که چېرې متن څېړونکي وکولای شي خپلې علمي تومنې په زور متن اصلي منشاء ته ورسوي او یا یې اصلي منشاء ته نږدې کړي، نو د ژبې د تحول او په لهجه کې د بدلون مراحل له دې متنونو ډېر ښه ترلاسه کولای شو. متون د ژبې د تحول په مدارجو او د لهجو د تاریخي سوابقو په معلوملو کې خورا ګټور تمامېږي.

۴ -د تاریخ په اوږدو کې ځینو کسانو د سیاسي، مذهبي او نورو اجتماعي عواملو تر اغېز لاندې ځینې متون جعل کړي او بشپړ جعلي کتابونه یې جوړ کړي دي او یا یې په وروستیو پېړیو کې د یوه لرغوني شاعر په سبک شعر ویلی

متن له دغو اصولو سره سم وڅېړي، ترتیب او خلکو ته یې وړاندې کړي، نو به یې د وخت له غوښتنو سره سم یو متن برابر کړی او لوستونکو ته په واک کې ورکړی وي. د متن څېړنې ځینې عمده اصول او پړاوونه سرمحقق هېوادمل داسې ښودلي دي.

**لومړی - د متن انتخاب :**

متن څېړونکي ته تر هر څه دمخه د متن په ټاکنه (انتخاب) کې ډېر غور او دقت په کار دی، متن څېړونکی باید د څېړنې له پاره د انتخاب په مهال له ځان نه دا لاندې پوښتنې وکړي:

دا متن پخوا چاپ دی او که نه؟ که چاپ وي، بیا دې پوښتنه وکړي چې دا چاپ تحقیقي دی او که بازاري، که تحقیقي وي، نو بیا کتل په کار دي چې پخوا چاپ شوی او که اوس؟ او.....؟

همدارنګه بیا دې له ځانه پوښتي چې: که دا متن په تحقیقي ډول جامعې ته وړاندې شي، د فرهنګ په وده کې یې مؤثریت څومره دی؟ آیا متن پر دې زحمت او مالي لګښت ارزي، که متن څېړونکی د همدې انتخاب په مهال غور ونه کړي او ټولو اړخونو ته یې متوجه نه شي، نو به یې کار علمي وزن ونه لري.

**دویم - د متن د نسخو لټون :**

کله چې متن څېړونکی تر هر اړخیزې څېړنې او بشپړ غور او دقت وروسته د څېړنې له پاره د متن د انتخاب له پړاوونو بریالی راووځي، د کار بله مرحله د متن د نسخو لټون دی. که متن خطي وي او پخوا نه وي چاپ شوی، باید دا ځان ته معلومه کړي، چې ده ته له معلومې نسخې یا نسخو پرته د دې متن نورې نسخې چېرې دي؟ د دې له پاره ده ته د ټولو هغو شخصي او دولتي کتابتونونو د خطي نسخو د فهرستونو او لستونو کتل په کار دي، چې د ده مطلوب متن د خطي نسخې د شتون امکان په کې شته او که متن چاپي نسخې هم ولري، معنا دا چې پخوا چاپ شوې وي، نو څېړونکی باید لومړی دا ځانته معلومه کړي، چې دمخه چاپ شوی متن په تحقیقي ډول چاپ شوی او که په بازاري؟ او یا یې دواړه چاپونه شته. د دغو ټولو نسخو په باب معلومات ترلاسه کول، د دې پړاو بل کار دی.

**دریم - د متن دخطي او چاپي لاس ته راغلو نسخو مطالعه :**

کله چې متن څېړونکی د مطلوب متن بېلابېلې خطي او چاپ نسخې ترلاسه کړي، د هغو ټولو

د پخوانیو واکمنانو، نوابانو، سردارانو او یا نورو مشرانو له پاره لیکل شوې وي. که په نسخو کې داسې نسخه نه وي، چې تاریخ ولري او د هغو له مخې یې لرغونتیا څرګنده شي، نو بیا دې د متن څېړونکي د کاغذ او سیاهي له مخې د نسخې د لرغونتوب اټکل وکړي او داسې نسخه دې انتخاب کړي، چې غلطۍ په کې کمې وي. په اووم پړاو کې دې هڅه وشي، داسې نسخه پیدا کړي چې کوم مهر ولري، ځکه په زیاترو مهرونو کې سنې هم لیکل شوې وي، له هغو څخه هم د لرغونتیا پته کېدای شي او که مهر لرونکې نسخه هم نه وه، نو بیا دې داسې یوه نسخه انتخاب کړای شي، چې غلطۍ او لاسوهنې په کې لږې وي.

**پنځم - د اصل تر ټاکنې وروسته نقل :**

په غور سره د اصل په توګه له اصولو سره سم د نسخې تر انتخاب وروسته، مهم کار د اصل نقلول دي. دا نقل د دې له پاره برابرېږي، چې نورو نسخو سره مقابلې او تصحیح ته چمتو شي. متن څېړونکی به اصل په خورا حوصله مندۍ او غور سره د وخت په مروج لیکدود رانقلوي، که په کوم ځای کې املایي تېروتنه وي، هغه به له مروجې املا سره سموي او د نسخې غلط شکل به په پرله پسې نومرو کې په حاشیو یا لمن لیکونو کې ضبطوي. که ځینې ځایونه د نسخې د زړښت له امله نه لوستل کېږي، هغه سپین پرېښودل کېږي او له نورو نسخو سره د اصل مقابلې په دوران کې یې د سم ضبط په لټه کې کېږي.

**شپږم - د متن د تصحیح او مقابلې پړاو :**

کله چې متن له اصلي نسخې څخه په غور او دقت رانقل شو، نو د بشپړ نقل یو ځل بیا لوستل په کار دي. تر لوست وروسته د متن د تصحیح او مقابلې پړاو پیلېږي، دا ډېر حساسه او له ستونزو ډکه مرحله ده.

د متن د تصحیح او سمون له پاره متنپوهانو درې روشونه ښودلي دي:

۱ -انتقادي یا ذکره کتنې روش ۲ -التقاطي روش ۳ -قیاسي روش.

د متن د خطي او چاپي نسخو څرنګوالي او څومره والي ته په پاملرنه، متن څېړونکی د خپل کار د بشپړولو له پاره له دې پورته یادو شویو روشونو څخه یو غوره کوي او د هماغه ټاکلي روش له غوښتنو سره سم د متن د تصحیح (سمون) او مقابلې کار بشپړوي.

**اخځلیکونه :**

(۱) سرمحقق زلمی هېوادمل، د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د ماسترۍ د څانګې درسي لکچرونه.

(۲) سرمحقق سید محی الدین هاشمي، د ادبپوهنې څانګې، د میهن خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳لمریز کال.

# حمزه بابا...

د تفکر ژورو او د تخیل لوړو ته یې سفرونه پیل کړ!

***

د حمزه بابا ادبي سفر له همدې ځایه شروع شو،
د ده د هنر ښکلي، نازک او تنکي بوټي
ډېر ژر ګلونه وکړل
ښکلي ګلونه
د شعر او غزل ګلونه!
خو د دې ګلونو رنګونه پردي وو
کله چې د ده د پیر عبدالستار بادشاه کیمیا اثر نظر پرې وشو
نو لکه څنګه یې چې ګلونه خپل وو، همداسې یې رنګونه هم خپل شول
او د حمزه بابا شاعرۍ
د پښتو ادب په بڼ کې
د یوه نوي او تاند بوټي په توګه
ګورې څانګې او رنګینې څانګې خورې کړې
او د نظم او غزل رنګین ګلونه یې وغوړول!

***

حمزه بابا:
د پښتو هغه غزل چې شپږ نیم سوه کال وړاندې اکبر زمینداوري رانښلولی و،
څلورنیم سوه کاله وړاندې ارزاني پاللی او میرزا، دولت، واصل، مخلص او نورو روښاني شاعرانو سنبال کړی و،
درې نیم سوه کاله وړاندې خوشحال خان خټک پسوللی او د فن او مضمون په ښکلاوو سینګار کړی او معیاري کړی و،
درې سوه کاله وړاندې رحمان بابا په سادګۍ کې رنګینه کړی و،
دوه نیم سوه کاله پخوا حمید، شیدا او پیر محمد کاکړ شفاف کړی او ځلولی و،
او بیا له یونیم سل کلونو راهیسې مړ شوی او هېر شوی و،
هو! حمزه بابا:
دا مړ شوی غزل یو ځل بیا راژوندی کړ،
په دې مړه کالبوت کې یې نوې سا پو کړه
او پښتو غزل یې په نوي روح او د وخت له غوښتنو سره سم راپیل کړ!
پښتو غزل یې پښتون کړ،
پښتو غزل ته یې خپل د وینو سره ورکړل،
خپلې وینې یې پرې وچې کړې،
هغه یې ځوان کړ،
ځان یې زوړ او بابا کړ:
ستا په اننګو کې د حمزه د وینو سره دي
ته شوې د پښتو غزله ځوان زه دې بابا کړم

***

ده یواځې د پښتو غزل ته د خپلو وینو سره ورنه کړل
بلکې د پښتو ادب نورو صنفونو ته یې هم خپلې ډېرې وینې وروبخښلې
ده د نظم رباب ته هم نوی ترنګ ورکړ
نوی خوند او نوی رنګ یې ورکړ
لکه څنګه یې چې غزل پښتون کړی و
همداسې یې نظم هم پښتون کړ
او لکه څنګه یې چې غزل رنګین کړی و
همداسې یې نظم هم رنګین کړ
او لکه څنګه یې چې غزل نرم کړی و
همداسې یې نظم هم نرم او پوست کړ:
راځه چې یوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې
راځه!......

***

حمزه بابا.
یواځې د پښتو شعر ته وده ورنه کړه،
بلکې د پښتو نثري اصناف یې هم وپالل،
نوي رنګونه او نوي خوندونه یې وروبخښل.
ده ډرامه، خصوصاً راډیو ډرامه
له ګاونډیو ژبو سره سیاله او په پښتني اقدارو سنباله کړه
درې، درې نیم سوه ډرامې یې د پېښور راډیو څپو ته وسپارلې
خو افسوس چې دا ټولې ډرامې د هوا له څپو سره ولاړې
او چا خوندي نه کړې!
که دا ذخیره خوندي شوې وای
نو موږ به اوس په پښتو کې د بابا د ډرامو دومره پانګه درلودای
چې بل هېچا نه ده خلق کړې
او بل هېچا په دې مقدار او معیار ډرامې نه دي وړاندې کړې
"ژرنده ګړی" د دې ډرامو یوه داسې راپاتې نمونه ده
چې د خوند او معیار له اړخه د پښتو ډرامو په سر لاروکې ده
او د "قند" پاڼې پرې د تل له پاره خوږې دي.

***

حمزه بابا:
د پښتو ادب د ګورې ونې د ناول څانګې ته هم د خپلو وینو سره ورکړل
ده هم داسې وخت چې د پښتو ناول لا په خړپوڅو
د "نوې چپې" پښتون ناول ولیکه،
د پښتون او مسلمان ګډه فلسفه یې چې ده خاص تبلور ورکړی و، په کې
په خوږه ژبه،
په پسته ژبه،
په ادبي ژبه!
او په داستاني ژبه!
بیان کړه:
ته پښتو اسلام ګڼه دوه زه وایم:
خدای که هم انسان وای، نو پښتون به و

***

حمزه بابا:
صوفي، مفکر او فیلسوف و.
هغه اسلامي تصوف ته پښتني جامې ور په غاړه کړې وې،
او له همدې کبله د ده تصوف ته "پښتون تصوف" نوم ورکړ شوی و.
د ده تفکر هم همداسې بڼه درلوده
د ده فلسفه د مادیت د بت په ماتولو ولاړه وه
د مارکسیزم، لینینیزم او کمونېزم په وړاندې یې د پاخه منطق سنګر ټینګ کړی و،
"ژوند" یې د همداسې فلسفې روښانوونکی او ځلوونکی و
او په "انسان او خدای" کې یې د مادې بت د معنویت په لته رانسکور کړی و.
په "انساني انا او پوهه" کې یې د خودۍ او خودداری پولې ټاکلې او د خودخواهۍ پولې ړنګې کړې وې.

***

حمزه بابا:
ګرځند سړی و
په ژوند کې یې ډېر سفرونه کړي وو
او په ادب کې یې د دې سفرونو نخښې هم ترشا پرې ایښې دي
"نوی پښتون" د ده د کابل سفرنامه ده
چې خپلې ټولې خاطرې یې په کې ادبي کړې او خوندي کړې دي
"د کابل منظومه سفرنامه" هم لري، چې د ده د یوه بل سفر پېښې په کې نغښتې دي.
خو افسوس، چې سرکاري پر خوله لاس ورکښېښود، ترچاپېدو وروسته ضبطه شوه او ډېر لږ کسان یې په لوستلو بریالي شول.
"د حجاز په لور" د ده یو بل مقدس سفر دی
چې د حج خاطرې یې په کې نغښتې دي.
خو دې سفر ته هم د پښتون په قافلو کې تللی:
حمزه سفر که د حجاز وي نو هم
زه د پښتون له قافلو سره ځم

***

او بالاخره حمزه بابا
وروستی سفر هم وکړ
له دې سفر سره
ده خپل قلم او کاغذ راونغښتل
د خپلو الماریو دروازې یې پورې کړې
خپل کتابونه یې کت کړل
پر خپل ادبي سفر یې وروستنی مهر ولګاوه
موږ ته یې خپل معنوي میراثونه
امانت راپرېښودل
او د خپل ادبي سفر په پای کې یې ابدي سفر وکړ
د ۱۹۹۴ زېږدیز کال د فبرورۍ په ۱۹ مه نېټه یې
د خپل زاړه کور په څو مترۍ کې
خپل نوي کور ته کډه وکړه
او له کوره ګور ته ولاړ!

***

له لویه خدای غواړو چې:
پر ګور یې نور شه!
ابدي ژوند یې په سرور شه!
او د جنت په نعمتونو معمور شه!
ادبي سفر یې د پښتنو له پاره ابدي شه
او ادبي سفر یې د ده له پاره جنتي شه!

۱۳۷۲/۱۲/۷

# لنډۍ د معصومه....

دیارلس سېلابه وي. مګر هغه چې په لنډیو کې د ډېر قدر وړ دي، هغه دا دي، چې له ادبي تعقیداتو او مصنوعي موازینو څخه عاري او فرمایشي بڼه نه لري او پر یوه مشخص او ټاکلي شاعر او زمان او مکان پورې منحصرې نه دي. څرنګه چې مې دمخه وویل، چې لنډۍ د ټولو پښتنو مال دی، نو ځکه په هغه کې هر راز مضمونونه، لکه خوشالي، غم، اندېښنې، د ژوندانه رازونه ځای شوي او د ټولنیز ژوندانه مختلف اړخونه په کې روښانه کېدلای شي.

د محرومیت عشق، مأیوسۍ، د علم او تحصیل حرمان، د بېلتانه او فراق حرمامونه، بېکاري او د ژوندانه کړاوونه او فشارونه او داسې نور حالتونه په کې تمثیل شوي دي. په تېره بیا ملي او حماسي روح دومره په کې قوي د قدر وړ دي، هغه دا دي، چې لنډۍ له درباري اړیکو څخه لرې دي او په هغه کې هېڅ راز درباري خصوصیت او تذکر نشته، له غوړه مالیو او چاپلوسۍ څخه بې برخې دي. هغه څه چې ورڅخه راوځي، هغه ملي غرور، پښتني سپېڅلي خویونه او هغه کړاوونه او خوارۍ دي، چې دوی ګاللي دي...."

(د معصومه عصمتي په قلم یادښت کې، چې د پښتو څېړنو نړیوال سیمینار له پاره یې درنه مقاله کښلې وه، یوه قلمي کاپي یې ما له ځان سره ساتلې وه، په دغه باب ډېرې اوږدې څرګندونې لري، ښه پرېمانه مثالونه یې، په ښو درنو څرګندونو سره راوړي دي، دا مقاله په (پښتو څېړنې) نومي اثر کې چاپ شوې ده. دا

# ارزښت...

پر ټولنه خپل اغېز وکړي، نو دا د ژوندانه قواعد دومره ډېر شي، چې زده کول یې د یوه عام وګړي له زغمه وتلې خبره وي. بیا د دې دیني ارزښتونو له پاره چې مقررات یې خورا زیات دي، د مسلکي کسانو په توګه یوه کتله خلک رامیدان ته کېږي، چې دوی دغه عرفي - اخلاقي قواعد یا عرفي او اخلاقي ارزښتونه د یوه مسلم اصل په توګه په دیني ارزښتونو تبدیلوي. کله چې دیني ارزښت وایو، سربېره پر دې چې تر شا یې الزامیت، اجباریت او استمراریت دی، یو بل فکټور هم پر هغه اغېز لري، چې هغه وهم یا وېره ده، دغه وېره د ده دا اجباریت فکټور غښتلی کوي. اوس نو دې ته راځو، چې ملي ارزښت څه شی دی؟ کله چې په غونډه کې د قرآن کریم تلاوت کوو، دا مو دیني ارزښت دی او چې په غونډه کې ملي سرود غږوو، دا مو ملي ارزښت دی. معنا دا چې دیني ارزښت ته درناوی کوو یا دیني ارزښت پر ځای کوو، ځکه ټولنه مو لومړی اسلامي او مذهبي ده او بیا قومي بنسټ لري، چې ملي سرود مو ملي ارزښت دی.

د پورتنیو څرګندونو په رڼا کې ارزښت داسې تعریفولای شو:

"هغه دستورونه او قواعد دي، چې لومړی جامع وي؛ یعنې اجماع پرې شوې وي او د یوه ترون بڼه ولري، چې ټول افراد یې په کولو او ایجاد کې رول لري. دویم هغه قاعدې او دودونه، چې په پرله پسې ډول په یوه فرهنګ بدل شوي وي. درېیم اجباریت او څلورم وېره له ځان سره لري. کله کله کوچنۍ ټولنې هم خپل ارزښتونه لري، د ساري په ډول، افغانان ملي ارزښت څه ته وایي؟ ملي ارزښت هغه شی چې افغانان هېڅکله د هغه له لاسه ورکولو ته حاضر نه دي یا په بله وینا، نه حاضرېږي چې سوداګري پرې وکړي. یعنې دا هغه فکټور دی، چې دوی ترې هېڅکله نه شي تېرېدای. د ساري په توګه، خپلواکي زموږ یو ملي ارزښت دی، په دې معنا چې موږ هر شی تر خپلواکۍ قربانولای شو؛ خو د دغه ارزښت له لاسه ورکولو ته چمتو نه یاستو، نو خپلواکي زموږ یو ملي ارزښت دی. داسې ټولنې هم شته چې ملي ارزښتونه ورسره په هغه تعریف او مفاداتو نشته، چې له موږ سره شته.

له دې څخه داسې پایله تر لاسه کوو، چې هره ټولنه ښایي ځان ته داسې ملي ارزښتونه ولري، چې له بلې توپیر ولري. د ساري په ډول، د امریکا په اساسي قانون کې تر ټولو ستر ملي ارزښت ټاکنې دي، هېڅ کار بې ټاکنو نه کېږي، که هغه ټاکنې د یوه کوچني اداري واحد په کچه وي یا د اداري مامور او یوه وکیل د ټاکلو په کچه، که د یوې ازموینې په بهیر کې ټاکنې وي او که بالاخره د ولسمشرۍ ټاکنې. یعنې ټاکنې په امریکا کې یو اصل دی. څه شي ته چې موږ ارزښت وایو، هغوی ورته د ملي روحیې یا نېشنل فېنس کلمه کاروي. نېشنل فېنس داسې یو شی دی، چې ملت یې په بایللو اندېښمن کېدای شي. پر دې بنسټ، دې تعریف ته رسېږو چې ارزښت الزامیت، اجباریت، استمرار او وهم له ځانه سره لري.

ملي ارزښتونه په ټولو ټولنو کې سره یو ډول نه وي، ښایي د هرې ټولنې ملي ارزښتونه له نورو ټولنو څخه توپیر ولري؛ مثلاً انګریزان او په ځانګړي ډول برتانویان ګروهمن دي چې آزاد بازار زموږ له پاره ملي ارزښت دی، سره له دې چې دغه شی په نوره نړۍ په ځانګړي ډول په درېیمه نړۍ کې مردود دی. په هغو هېوادونو کې چې میتافزیکي افکار لري، دغه اصل ورته بېخي د منلو وړ نه دی، خو د برتانویانو له پاره ملي ارزښت دی او قطعاً ترې نه شي تېرېدای.

په ملي ارزښت کې یوه ځانګړنه عمومي اجماع وي، مثلاً خپلواکي، اساسي قانون، ملي سرود او نور هغه څه دي چې عمومي اجماع پرې شوې او د افغان ملت لوی اکثریت د یوه مهم اصل په توګه منلي دي.

کله چې دودیز ارزښتونه په اخلاقي ارزښتونو بدلېږي، ټولنیز ارزښتونه ورته ویلای شو، یعنې په ټولنه کې هغه شته ارزښتونه چې خلکو پرې اجماع کړې وي. دغو اخلاقي او دودیزو ارزښتونو ته په یوه جامع سیستم یا بحث کې ټولنیز ارزښتونه ویلای شو. ارزښتونه ډېر ډولونه لري؛ حقوقي او اقتصادي ارزښتونه هم شته دي او خورا مهم دي. د ساري په ډول، زموږ په اقتصادي ارزښتونو کې باید زموږ ملي ګټې ذکر وي، یعنې هر قرارداد چې موږ یې له بل هېواد سره کوو، زموږ اقتصادي ګټې په کې باید خوندي وي. ملي ګټې زموږ له پاره ملي ارزښت دی، چې تر څنګ یې همدغه یو اقتصادي ارزښت هم دی. نو ویلای شو چې ملي ګټې زموږ ملي ارزښت هم دی.

ملي ارزښت باید له ارزښت څخه بېل او توپیر یې وشي، د ساري په ډول، زموږ په ټولنه کې لباس یو ارزښت دی؛ خو ملي ارزښت یې نه شو ګڼلای، ځکه ملي ارزښتونه هغه څه دي چې د ټولنې په لومړیتوبونو کې ځای لري او ټول ملت یې په یو ډول درناوي، خوندي ساتلو او پاللو مکلف وي. لباسونه بدلېږي رابدلېږي، په ودونو کې هندي جامې اغوستل او ساري اچول د وروستیو لباسي بدلونونو له ډلې دي، چې موږ تاسو یې عملاً وینو، نو که لباس ملي ارزښت وای، باید بڼه یې دومره چټکه او په اسانۍ سره نه وای بدله شوې. دا سمه ده چې لباس اغوستل د مسلمان له پاره یو دیني ارزښت دی؛ خو د ډول ټاکنه یې بیا یو فرهنګي ارزښت دی. معمولاً فرهنګي انقلابونه ځانګړې جغرافیه نه لري، یعنې هنر او فرهنګ د هېچا میراث نه دی؛ خو د ټولو دی. (۱)

**اخځلیک:**

(۱) اکبر شېر د ګل زوی، ۵۶ کلن، د حقوقو او سیاسي علومو لیسانسه، د ننګرهار ولایت د فرهنګي او ټولنیزو چارو کارپوه، د تلې میاشت، ۱۳۸۸ل.

شوی دی، چې حتی په ډېرو مواردو کې، د یوې لنډۍ تاثیر د دوو زرو نفرو له قوت نه هم لا ډېر وي. حماسي او ملي لنډۍ دي، چې د حساسو انسانانو په رګونو کې وینې ایشوي او بیده پلي راژوندي کوي، دغه برخه ده، چې د پښتني مېړنې او پېغلې د ژوندانه له افتخار څخه شمېرل کېږي.

لنډه یې دا چې، موږ افغان ولس، لنډۍ د خپل ملي کلتور څرګندونې او ویاړنې بولو، ځکه: دا د پښتون ولس د بې سوادو خلکو له خوا د زړه له سوز و ساز سره یوځای په خاصو مواردو کې او مخصوص حالت او کیفیت لاندې ویل شوې دي او ادبي تصنعات او تکلفات په کې نشته، بلکې په ډېر ساده او طبیعي شکل ویل شوې دي. څرنګه چې لنډۍ له هغه اکثریت څخه نمایندګي کوي، چې هغه معمولاً بې سواده، بې کاره وو. که کار هم موجود و، هغه فقط بزګري، شپونتوب، جاله واني او یا نورو دغسې کارونو پورې منحصر وو، چې هغه هم د لنډیو له رویه څرګندېږي....

که څه هم له پېړیو پېړیو راهیسې، په دغه منطقه کې شاهي امپراتورۍ او سلطنتونه موجود وو او ډېر زیات شاعران په دربارونو کې روزل شوي، قصیدې ویل شوي او د دربار په اړیکو کې سخت پېچل شوي وو او د خپل شهرت او مقام په خاطر یې ډېره غوړه مالي هم کړې ده، مګر هغه څه چې په لنډیو کې د ویاړ او پورته لنډه یادونه، موږ د خپلې موضوع د بشپړتیا له پاره په څو ټکو کې په چاڼ ډول سره ترې راواخیسته).

په اخر کې دا هم څو غوره کړې ټپې او ټیکۍ، چې د دغې درنې یادونې لمن به پرې ښایسته او ګلونه کړو:

جانان مې ګل د وچ راغه و
لکه شیګره (۲) په وربدم تازه مې کنه

***

سترګې دې سرې لکه د زرکې
په ټول ولات (۳) کې دې ثاني نشته مینه

***

سترګې دې سرې لکه د زرکې
ما په نظر کې ګرځوې که هېر دې کړمه

***

د کراچۍ تویه ظالمه! (۴)
شولې دې یووړې په لالي وډاره شومه

***

دیدن په لک، خندا په زرده
د سپینې خولې بیه به نه معلوممه

***

دیدن په سین کې را لاهو کړه
د تورو زلفو جال په لاس ولاړه یمه

***

ته خو زموږ میلې ته راشه
په دا مستو ککړه خوله به درکومه

(۱) بژه په منګلو کې د څېرې په معنا کارول کېږي.
(۲) ښېګړه په منګلو کې باران ته ویل کېږي.
(۳) ولات: ولایت.
(۴) د کراچۍ توی د څمکنیو رود ته ویل کېږي.

## ادبي او فرهنګي...



کړی و، د بېلابېلو استادانو له خوا د اروابښاد ځدراڼ پر ژوند او ادبي هلو ځلو رڼا واچوله شوه. استاد محمد اصف صمیم د دې غونډې په پرانیستونکې وینا کې د ځدراڼ لیکنه او شخصیت یو د بل هینداره وبلله. څېړنپوه نصر الله ناصر د هغه ژوندلیک ولوست او څېړنپوه محمد عارف غروال د "اروابښاد څېړنپوه ځدراڼ د یو هنردوست او ټولنیز شخصیت په توګه" تر سرلیک لاندې مقاله ولوسته. استاد حبیب الله رفیع بیا وویل، چې نوموړي د خلکو د اړتیا له مخې، لیکنې او ژباړې کولې او نړۍ موسکا یې تل پر شونډو وه.

عبدالرحیم ځدراڼ په ۱۳۱۸ المریز کال د پکتیا د وزي ځدراڼ ولسوالۍ د توریخېلو سیمې د رجبخېلو په کلي کې زېږېدلی، په ۱۳۴۰ کال په کابل کې له رحمان بابا لیسې او په ۱۳۴۴ کال د کابل پوهنتون د پښتو ژبې او ادبیاتو له څانګې فارغ او په همدې کال د پښتو ټولنې مسلکي غړی شو. هغه له نږدې ۴۵ کلن علمي – فرهنګي خدمت وروسته د ۷۱ کالو په عمر د ۱۳۸۹ لمریز د لړم د میاشتې په ۱۶مه، د ورپېښې ناروغۍ له امله په حق ورسېد.

نوموړی لسګونه مقالې او یو شمېر آثار لري، چې ځینې یې دادي: په خارج کې پښتو څېړونکي، روهیله پښتانه، د رضواني منتخب نثرونه، د ملا لتاړ دیوان، د شعر او شاعرۍ په برخه کې لنډ معلومات.

ژباړې: د شرق د تمدن تاریخ، د خوشحال خټک د ادبي مکتب په شاوخوا کې لنډ معلومات، پښتون شېرشاه، د ادب مطالعه، ادبي ژانرونه.

*****

### " په پښتو لنډیو کې د ښځو د ژوند د ځینو مسایلو څېړنه" علمي- څېړنیزه پروژه دفاع شوه

د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو د انسټیټوټ غړې آغلې نامزد څېړنیارې سمیلې احمدزۍ د څېړنیارۍ علمي رتبې ته د لوړاوي له پاره له خپلې علمي پروژې، چې "په پښتو لنډیو کې د ښځو د ژوند د ځینو مسایلو څېړنه" تر سرلیک لاندې وه، د ۱۳۹۳ المریز کال د لیندۍ د میاشتې په ۲۶مه، په بریالیتوب دفاع وکړه. په دې غونډه کې د علومو اکاډمۍ ځینو علمي غړو ګډون کړی وو.

چهارشنبه ▣ ۱۵ – ۱۸ مه ګڼه ▣ دریېمه دوره ▣ پرله پسې ۲۱۵ - ۲۱۸ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۳ لمریز کال د لیندۍ ۲۶ مه ▣ ۱۴۳۶ هـ ق کال د صفر المظفر ۲۳ مه ▣ ۲۰۱۴ زېږدیز کال د ډیسمبر ۱۷ مه ▣ ۴ مخ

# زېرى

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې
مسوول مدیر: څېړندوی محمداصف احمدزی
مهتممه: څېړندویه ملکه مشتري
کمپوز او ډیزاین: م. ا. احمدزی
zerai1316@gmail.com
facebook.com/Zeerai1316
۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱

د افغانســـتان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو د مرکـــز
خپرنیز ارګان
پته: د علومو اکاډمۍ، د ژبو او ادبیاتو
مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار،
کابل - افغانستان

# د کوچنیانو ادبیاتو د ودې لارې چارې

◈ څېړنوال محمدنبي صلاحي

زموږ کوچنیان د ویلو له پاره ډېرې خبرې لري، مګر زیاتره یې د بیان آزادي نه لري او تل د لویانو په مخکې پټه خوله ناست او تر یوه سخت روحي فشار لاندې شپې او ورځې سبا کوي. د ادبیاتو له زېږېدو مخکې، هغوی باید، زموږ په افغاني ټولنه کې د خبرو کولو حق ولري. زموږ کوچنیان، اوس هم په مازې خبره، درنې څپېړې خوري او تر سخت جسمي او فزیکي فشار لاندې ژوند کوي. موږ څنګه کولی شو، هغوی له دغو درنو څپېړو او زبون حالت، روحي او فزیکي فشار، رټنې او تهدید نه وژغورو؟!

کوچنیان زموږ د افغاني ټولنې تنکي ګلان او زموږ د چاپېریال له پېښو سره نابلده دي. دوی د دې نړۍ د هر څه په اړه، له لویانو نه پوښتنې کوي او موږ ته په کار ده، چې په ورین تندي او خوږه خوله ځواب ورکړو. دوی کمزوري بدنونه لري، بې تجربې انسانان دي او سخت مرستې ته اړ دي. موږ باید خپلې مرستې او معلومات، له دوی نه، و نه سپموو.

څومره به ښه وي، چې ټول لیکوال او شاعران، د ماشوم د ادبیاتو کار، د خپل ادبي کار یوه پاملرنه غواړي. کوچنیانو ته، تر ټولو ښه آثار، زیاتره تر ټولو ښو او پوهو لیکوالو لیکلي دي.

دغه ادبیات، د دوی د شخصیت په بدلولو او وده کې ځانګړی رول لري او د کوچنیانو نړۍ بدلولی شي. د هغوی ویده احساسات را پارولی او ویښولی شي او له چاپېریال سره، د هغوی منطقي اړیکه ټینګولی شي.

ادبیات د کوچنیانو یو سخت ضرورت دی. له کوچنیانو سره مینه، زموږ د هېواد له راتلونکې سره مینه او د سبا ورځې ادبیاتو ته کلکه پاملرنه ده. نور په دې برخه کې، بې پروایي نه ده په کار. سراج الاطفال، د کمکیانو انیس، لمر، کهول، ژوندون ، اکوبکو او تربیت مجلو او بیا په ځانګړې توګه، مصور خپرندوی بنسټ، په دې برخه کې خپله خپله اغېزه لرلې ده.

موږ باید خپل کوچنیان ډلبندي کړو. تې خوریو کوچنیانو ته بې دریغه مینه ورکړو، وې نازوو او په خپلو کورنیو کې، د هغوی د روغتیا، خوراک او ارام چاپېریال خیال وساتو.

د کوچنیانو ادبیاتو یو شمېر ماهرین او متخصصین په دې نظر دي چې: «کوچنیان د کیسې ورواچوو او په خپلو اسلامي او ملي ارزښتونو او ویاړونو یې وپوهوو. له دوولسو کلونه وروسته، تر اتلسو کلونو پورې، د ژوندانه په هره برخه کې، هغوی نوښت ته وهڅوو. د زده کړې په اهمیت یې وپوهوو او د دوی په ژوندانه کې، د هغې کلکه اړتیا ورته بیان کړو. د ادبي آثارو د تخلیق په لارو چارو یې وپوهوو، ترانې ورته ولیکو، دوی ته یې ولولو، په دوی یې ولولو، د ماشومانو له پاره په خپله، فلمونه تولید کړو او په دوی یې ننداره وکړو. دوی یو څه لیکلو ته تشویق کړو، د لیکنې لومړنۍ لارې چارې او اصول ور وښیو، په مینې او هدفمندۍ سره یې، وهڅوو او د مطبوعاتو له نړۍ سره یې، همېشنۍ اړیکې ټینګې کړو.

کوچنیان د لویانو له پاره د تخلیق شویو ادبیاتو، د زغم توان نه لري. د کوچنیانو ادبیات باید، د دوی د سواد له کچې سره سم وي. دغه ادبیات باید په دوی کې هنرمندان را پیدا، هغوی کار او ژوند ته وهڅوي او په هره برخه کې، د هغوی د احساساتو او کوچنیو

# ادبي او فرهنګي خبرونه

✹ محمد اصف احمدزی

**د عبدالرحمن پژواک پنځم اثر له چاپه راووت**

د عبدالرحمن پژواک "د یوه افغان کډوال د خاطرو (یاداښتونو) د فصل لنډیز" اثر د چاپ په ویاړ د لړم په ۱۸ مه په کابل ښار کې غونډه جوړه شوه. دغه تازه چاپ شوی کتاب ۲۹۴ مخونه لري، چې په بېلابېلو سرلیکونو کې د اروابناد پژواک پر خاطرو سربېره، شعرونه او مقالې په کې رانغاړل شوې، چې تر ډېره بریده په کې د جهاد کلونه او ملي مبارزه تر بحث لاندې نیول شوې ده.

د عبدالرحمن پژواک لمسي او د پژواک بنسټ مشر فرهاد په یاده ادبي غونډه کې وویل، چې دغه اثر د کلید ګروپ په مرسته چاپ شوی، چې د یو شمېر لیکوالانو له لوري ترتیب او منظم شوی دی.

د هغه په وینا، تر اوسه پورې د استاد پژواک پنځوس سلنه اثار بې چاپه پاتې دي او دا د هغه له مړینې وروسته پنځم اثر دی، چې د چاپ په ګاڼه وپسولل شو.

افغان شاعر، لیکوال، ژورنالیست او ډیپلومات عبدالرحمن پژواک په ۱۹۱۹ لمریز کال د ننګرهار په سرخرود ولسوالۍ کې نړۍ ته سترګې وغړولې او په ۱۹۹۵ لمریز کال په پېښور کې وفات شو.

*****

**د نثر پاچا استاد سعد الدین شپون**

دا د هغې ادبي غونډې سرلیک و، چې د افغانستان د نامتو لیکوال، ادیبوه، شاعر او ژورنالیست استاد سعد الدین شپون د اثارو د مخکتنې او ادبي خدمتونو په موخه په کابل ښار کې د لړم په ۲۲ مه جوړه شوې وه. دغه نمانځغونډه، چې د افغانستان د قلم ټولنې او د علم او ادب د خپراوي ټولنې له خوا جوړه شوې وه او ګڼ شمېر لیکوالانو، شاعرانو او د ادب مینه والو په کې ګډون کړی و، د بېلابېلو لیکوالو له خوا په کې د استاد شپون د ژوند، ادبي هلوځلو او اثارو په اړه ویناوې وشوې.

*****

**د استاد لطیف بهاند نمانځغونډه وشوه**

د دوکتور لطیف بهاند د ادبي خدمتونو نمانځغونډه په کابل ښار کې د لړم په ۲۹ مه وشوه. دغه غونډه چې د لوی افغانستان ولسي خوځښت له خوا د کتاب ښار د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه، په کې لسګونو لیکوالانو، شاعرانو او د ادب مینه والو ګډون کړی و. په دې ناسته کې یو شمېر استادانو د بهاند پر ادبي ژوند، ادبي تخلیقونو او ژباړو خبرې وکړې. وروسته، بهاند په خپلو خبرو کې له ځوانو لیکوالو وغوښتل، چې د خپلې ژبې او د خپل هېواد د خدمت له پاره له هېڅ ډول قلمي مبارزې لاس پر سر نه شي او د انسانیت او مدنیت د فکري ودې له پاره تر خپله وسه کار وکړي.

برخه وګرځوي. دغه ادبیات باید هدفمند، ښوونیز او روزنیز وي او د کوچنیانو له ذوق سره برابر وي. په هغو کې له هره پلوه، د کوچني د ژبې، شخصیت او خیالاتو خیال ساتل شوی وي. د ادبیاتو دغه برخه، ډېره کمزورې او کلکه زېږېدو له ورځې کتاب ته اړتیا لري!» له دوو کلونو نه وروسته، تر اوو کلونو پورې، هغوی د بېلا بېلو رنګونو او انځورونو له لارې، له ژوندانه سره بلد کړو او له اووه کلونو نه وروسته، تر دولسو کلونو پورې، دوی ته تجربو خیال وساتل شي، ځکه کمکیان زمونږ د ګران هېواد راتلونکي معماران، د دې هېواد اصلي خاوندان او د را تلونکو انسانانو پلرونه او میندې دي.

# رنډۍ د معصومه عصمتي له نظره

❋ څېړنپوه علي محمد منګل

لنډۍ، ټپه، ټیکی، مسرۍ او سندره، د پښتو د ملي او ولسي شعرونو په سترلړ کې، هغه ادبي قیمتي دُردانې دي، چې د پښتون ولس له پیدا ایښت سره سمې د دوی د عالي فکر محصول او راپیداشوې دي، چې هرې پښتنې، پښتانه، زاړه او ځوان، ښځې او پېغلې د خپل نتلي زړه حال په کې، بې له کوم زور او زیاتي څخه په مینه په خوږو کلمو کې پېیلی او راجوت کړی دی... څو کالونه دمخه، ښه مې په یاد دي، چې پورته لنډۍ یوې جلکۍ وویله. بله جلۍ یې چې همځولې غوندې یې وه، په مینه یې ورته وخندل او داسې یې ورته وویل:

زه خو له تا نه څه کمه نه یم؛ د دې سندرې بله رنګینه بڼه، زما په فکر کې داسې راوګرځېده، چې ټکي او کلمي یې سره نږدې دي، خو ستا د دې سندرې سیالي او مخې کولای شي، نو داسې یې په مینه ورته وبلله:

که د لالـــي غمونـــه، نـــه وای
د پسرلي تـر ګـل بـه زه نازکـه ومـه

بې له څه شک څخه، ټپه او لنډۍ د هر پښتانه او پښتنې د ادبي او هنري خیال پاکه هینداره ده، د دغې صفا هیندارې په یاد، یوه وړه غوندې کیسه مې، چې زه کوچنی هلک وم، په فکر کې راوګرځېده: شپېته کاله دمخه، دوی پېغلکې جلکۍ چې سره همځولې وې، څنګ په څنګ یو له بله ناستې وې. جو ته ده چې شپېته کلونه دمخه د کلیو او بانډو خلک ډېر خوار وو. دوی د اغوستو له پاره یوه جوړه جامه درلوده، چې پاکه به یې په ځان کوله. د یوې ملګرې یې د سینې په مخ د ختـه برخه څه زړه شوې غوندې وه. ملګرې یې په خندا ورته وویل: اې خورې، خواره مه شې! یه سینه باندې دې کمیس

> که د جانان غمونه، نه وای
> د پسرلي تر ګل به زه ښایسته

شکېدلی غوندې برېښي، لکه چې له ځان او جامې نه دې بې خبره یې؟ ملګرې یې بې له څه درنګه د سندرې په ادبي ژبه داسې کلک ځواب ورکړ:

خـت مـې د تـې پـه سـرنې بـږه (۱) دی
ګـوتې بـه ورنـه ورم ځوانـان پـرې ځورومـه

په هر حال، پښتانه دې خدای لري. د لنډۍ په برخه کې خبرې او یادونې، بېخې ډېرې ډېرې او ډېرې دي.

مونږ به دلته خپلې غوره کړې موضوع ته، چې درنې لیکوالې او ادیبې معصومه عصمتي، ټپې او ټیکۍ ته په څه ادبي نظر کتلي دي، ځیر شو، چې د ټپې په اړه یې څنګه درنه لیکنه کړې ده:

"...لنډۍ یو له هغو ملي شعرونو څه دی، چې زمونږ په شفاهي ادب او په تېره د پښتو په ولسي ادب کې ډېره لویه او ارزښتناکه برخه لري، چې ویونکی یې نه دی معلوم او په لره او بره پښتونخوا کې ویل شوې دي، له کوچیانو سره له یو ځای څخه بل ځای ته تللې او په بېلابېلو سیمو کې په مختلفو نومونو یادېږي، لکه: لنډۍ، ټپه، مسره او نور....

لنډۍ په اجتماعي ژوندانه کې سربېره په نورو مواردو په دوو لویو مهمو مواردو کې هم استعمالېږي، یو خو دلنډیو استعمال په ساز او سرودونو کې. ولې چې له لنډیو څخه په ډېرو ځایونو کې غاړې جوړې شوې دي، چې تصنیف او کمپوز یې هم محلي رنګ لري چې په ودونو او د خوښیو په ورځو کې له ساز سره یو ځای ویل کېږي او په مختلفو نومونو یادېږي، لکه کاکړۍ غاړې، تېراهي غاړې، شین خالۍ نارې او نور... (د معصومه عصمتي دا ټکی د تأمل وړ دی، ځکه کاکړۍ غاړې، شین خالۍ نارې او نورې غاړې د پښتو د ولسي ادب ځانګړې ځانګړې بېل څانګونه او ژانرونه دي، چې له لنډیو څخه ځانګړی قالب او فورم لري...منګل).

معصومه عصمتي د لنډیو په باب دا هم ویلي دي:

د لنډیو د استعمال بله خوا داده، چې د ټولنیز ژوندانه په اړیکو کې د ضرب المثلونو او متلونو په حیث ترېنه کار اخیستل کېږي. د پښتو لنډۍ، نارې او دغسې نورې پښتنې سندرې د پښتو د (شفاهي ادب) یوه برخه ګڼل کېږي، چې ترڅو کاله دمخه، نه وې لیکل شوې، خو د وګړو په سینو کې خوندې پاتې شوې او خوله په خوله تراوسه مونږ ته راپاتې شوې دي. که څه هم د ادب دغه برخه ډېر اوږد تاریخ لري، خو له دې لرغونتیا سره سره یې تراوسه پورې خپله اصلي بڼه، سپېڅلتیا او ملي خصوصیتونه ساتلي دي.

د لنډیو په تخلیق کې ټول پښتانه سهم لري او د پښتني ولس ګډه پانګه ده، خو ښایي دا وایو، چې په تېره مېرمنو په کې زیاته برخه اخیستې ده.

د ترکیب له نظره، لنډۍ دوه مسرۍ لري، چې اوله مسره یې نهه سېلابه او دوهمه مسره یې

درېیم مخ

نوموړی په ۱۳۳۴ لمریز کال د کابل ښار په بریکوټ کې زېږېدلی، د دوکتورا تر کچې یې زده کړې کړې دي. له شلو نه زیات په پښتو، دري او روسي ژبو ادبي، سیاسي او ټولنیز اثار یې لیکلي او ژباړلي دي. هغه اوسمهال د افغانستان په استازیتوب په اوکراین کې د مرستیال سفیر په توګه دنده ترسره کوي. (تاند وېبپاڼه)

*****

## له څېړنوال مجاور احمد مومند سره د مخه ښې غونډه جوړه شوه

د افغانستان د علوموا کاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز د پخواني غړي څېړنوال مجاور احمد مومند د ژوند، ادبي هلوځلو په ویاړ او له هغه سره د مخه ښې غونډه د یاد مرکز په ودانۍ کې وشوه. په دې غونډه کې چې د ۱۳۹۳ لمریز کال د لیندۍ په ۳مه ترسره شوه، د بېلابېلو پوهانو له خوا د نوموړي د خاطرو ترڅنګ په ادبي هڅو او د ژوند په بېلابېلو اړخونو رڼا واچول شوه.

ښاغلی مومند په ۱۳۲۶ لمریز کال زېږېدلی، په ۱۳۵۲ کال د پښتو ټولنې غړیتوب ترلاسه کړی او په ۱۳۹۳ کال د تلې په لومړۍ نېټه یې تقاعد کړی دی. نوموړي د خپل ژوند په ۴۱ کلونو کې د پښتو ادب اړوند لسګونه مقالې او لاندې کتابونه کښلي دي: د مومندو نرخونه، په شفاهي او لیکنې ادبیاتو کې د مومندو نومیالي، د رحمان بابا او حمید مومند په آثارو کې پښتو متلونه او اصطلاحات (ناچاپ).

*****

## د لیکوال او شاعر نعمان دوست نمانځغونډه جوړه شوه

د ننګرهار په مرکز جلال آباد کې د دردونو د انځورګر لیکوال، شاعر او ژورنالېست محمد نعمان دوست په ویاړ غونډه د لیندۍ د میاشتې په ۱۴مه، د ختیځ ادبي بهیر له لوري جوړه شوه. په دې نمانځغونډه کې، چې په میډیو ټیک دفتر کې ترسره شوه او لسګونو کسانو ګډون کړی و، بېلابېلو لیکوالو د دوست د ادبي هلوځلو، هنر او شخصیت په اړه خبرې وکړې. ویناوالو، نعمان دوست په وطن او خلکو مین قلموال یاد کړ او په ټولنیزو رسنیو کې یې د دوست لیکنې خلکو ته د مثبت فکر په ورکولو کې ډېرې مهمې او اغېزناکې یادې کړې.

نوموړی د لغمان د الینګار ولسوالۍ په کوخي کلي کې زېږېدلی دی. په ۱۳۷۶ لمریز کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې فارغ شوی دی. د ځینو آثارو نومونه یې دا دي: ترهګر (د لنډو کیسو ټولګه) او په قتل پښېمانه یم (د ادبي لیکنو ټولګه).

*****

## د پښتو ژبې نامتو شاعر اکرام الله ګران ومړ



د پښتونخوا نامتو غزلبول اکرام الله ګران، د لیندۍ په شلمه، له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې. ګران د میان فضل رحیم زوی په ۱۹۳۸ زېږدیز کال د کوزې پښتونخوا د چارسدې په یوه علمي او فرهنګپاله کورنۍ کې زېږېدلی دی. نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې د خپلې سیمې په تحصیل بازار ښوونځي کې کړې، خو د ځینو ستونزو له امله یې لوړې زده کړې و نه کړې؛ له ماشومتوبه یې شاعري پیل کړې وه او لومړني شعرونه یې د خپل پلار له خوا ادبي ناستو ته وړاندې شول. ګران د غزل او نظم په فورم کې پراخه شاعري کړې، خو د کتابونو له چاپ سره یې ډېره مینه نه درلوده، یوازې د" زما غزل" شعري ټولګه یې چاپ کړې ده. د پښتو ژبې له سترو شاعرانو قلندر مومند، حمزه بابا، غني خان او سید جلال مضطرب سره یې ادبي ناستو، هغه ته شهرت ورکړی او د غزل رنګیني یې په خپرونو او د سندرغاړو په ژبه خورې شوې دي.

*****

## د ارواښاد څېړنپوه عبدالرحیم ځدراڼ یاد غونډه جوړه شوه

د علوموا کاډمۍ د پخواني غړي ارواښاد څېړنپوه عبدالرحیم ځدراڼ یاد غونډه د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انسټیټوټ له لوري د همدې مرکز په انګړ کې د لیندۍ په ۲۴مه، ترسره شوه. په دې ناسته کې، چې د ژبو او ادبیاتو مرکز له علمي غړو سربېره، یو شمېر نورو پوهانو هم ګډون

درېیم مخ

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.